لومړۍ کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# د پوکانیو راز





**لیکوال:** موراري جها

**انځورګر:** سوویدا مستري


**ژباړن:** الیشا برجر


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



لمبه ډېره زياته خوشحاله وه. هغه په لومړي ځل حوض ته روانه وه. د لامبلو وخت و!



په لومړیو کې، لمبه له اوبو څخه
ډارېدله.

خو کله چې هغې نورې وزې
ولیدلې چې په اوبو کې یې شړپهار
کولو، هغې هم ورودانګل.



ټولو وخندل. هرې يوې په اوبو کې شړپهار کاوه. هره يوه په لوبو کې بوخته وه.



ډېر ژر لمبې خپل شاوخوا ته پوکانۍ ولیدلې.

هغه **ټپ ټپ ټپ ټپ** چاودېدلې! هغه یو څه وډار شوه.



خو ژر هغې خپلو اندېښنو او فکرونو ته د پای ټکی کېښود.

لمبې په پوکاڼیو کې ټوپونه وهل، نڅا کول او چورلېدل پیل کړل.



د ساعت تېرۍ د دغه ورځې
پای ته رسېدو وروسته، لمبه
په دې فکر کې شوه، ”دا پوکانۍ
ثنګه جوړېږي؟“

هغې له خپل پلار نه پوښتنه
وکړه. پلار وویل چې هغه نه
پوهېږي.



لمبې له خپلې مور نه پوښتنه وکړه.

مور وویل چې هغه هم نه پوهیږي.



نو لمبې وپتېيله چې د
پوکاڼيو دا راز به ټول
په خپله حل کوي.





هغې خپله لکۍ په اوبو کې ټپ ټپ ووهله...

هغې په خپل ټول قوت سره په
اوبو کې پوکی وکړ...

خو یوه پوکانۍ یې هم جوړه نه کړه!





یوه ورځ، د لمبې په ګېډه درد و.
هغه حیرانه
وه چې څه وکړي.



هغې د حوض په یخو اوبو کې د
لامبلو پرېکړه وکړه.



د هغې په ګېډه کې دننه غړمبهار و.
ناڅاپه د لمي له ګېډې باد خطا شو! **پششششششـ**
څنګه چې باد په اوبو کې ولګېد، پوکانۍ او د اوبو سر ته راوختلې. **ټُوپ ټُوپ ټُوپ!**



بالاخره، لمبې د پوکانۍ راز حل کړ!



اوس چې کله د لامبلو ورځ وي، لمبه تر ټولو ښکلې پوکانۍ جوړوي.



د لمبې خور د هغې د لامبلو د لومړۍ ورځې وروسته، له دې څخه پوښتنه وکړه چې پوکانۍ څنګه جوړېدلې؟

او لمبې څه وویل؟ ولې، هغې خپلې خور ته وویل چې هغه نه پوهېږي!

# لارښودونکې پوښتنې

1. د درې هغه احساساتو نومونه واخلئ چې لمبې په کیسه په بېلا بېلو وختونو کې محسوس کړي وو.
2. د هغه څه له مخې چې تاسې لولئ، ستاسې په اند پوکاڼي څنګه جوړېږي؟
3. ته چېرته لوبې کول خوښوې؟ ته هلته څه کوې؟
4. آیا تاسې د لمبې په څېر کله د یوه نوي شي د ازمایلو پر مهال ډارېدلي یاست؟ تاسې څه کول؟
5. ځینې هغه پوښتنې/رازونه کوم کوم دي چې تاسې یې حل کول غواړئ؟